**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳۰** (از ۲۴ الی ۳۱ اسد ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**د کډوالۍ بحران او په نړۍ کې د افغان کډوالو وضعيت**

- اروپا ته د مهاجرتونو عوامل ........ ۴
- د اروپا د مهاجرتونو بحران ........ ۵
- له افغانستانه د کډوالۍ لاملونه ........ ٦
- د افغان کډوالو وضعيت ........ ۷

**ناتو باز می‌گردد!**

- ماموریت غیر محاربوی ........ ۱۱
- بازگشت انگلیس‌ها به هلمند ........ ۱۲
- ظهور گروه داعش در افغانستان ........ ۱۲
- تجارت مواد مخدر ........ ۱۳
- عوامل و پیامدها ........ ۱۴

## مقدمه

د کډوالو چارو د نړیوالو ادارو د راپورونو او څېړنو له مخې، په دې وروستیو کې د ټولې نړۍ په کچه د کډوالۍ بهیر خورا چټک شوی او په مشخص ډول د زیات شمېر هېوادونو وګړي اروپايي هېوادونو ته د تګ هلې ځلې کوي. د دغو کډوالو یوه زیاته برخه افغانان جوړوي، چې په کډوالو چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د راپور له مخې په افغانستان کې د جګړې د پراخېدو له وېرې له هېواده د افغانانو د تېښتې لړۍ په تېرو څو اوونیو کې خورا لوړې کچې ته رسېدلې او افغانان هڅه کوي چې له هرې ممکنه لارې ځانونه اروپايي هېوادونو ته ورسوي.

د هېواد په کچه د جګړې د لمنې پراخېدل او ورځ تر بلې زیاتېدونکې بې‌کارې د دې لامل شوې، چې افغانان په سختو شرایطو او خطرناکو لارو اروپايي هېوادونو ته ځان ورسوي. د دې ترڅنګ که څه هم له ایران او پاکستان سره د افغان کډوالو په اړه ځینې توافقات شوي، خو بیا هم یو زیات شمېر کډوال له ایران او پاکستانه په جبري ډول هېواد ته ستنولو ته اړایستل کېږي او افغانستان ته له راګرځېدو وروسته دلته هم له پراخو ستونزو سره مخ دي. دا چې اروپا ته د کډوالۍ او په تېره بیا له افغانستانه د تلونکو کډوالو د زیاتېدو عوامل څه دي؟ او همدا راز په نوره نړۍ کې دا مهال افغان کډوال په څه وضعیت کې دي، هغه موضوع ده چې د دې اوونۍ په تحلیل کې یې په اړه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې په دې وروستیو کې یو ځل بیا افغانستان ته د امریکايي او برېتانوي ځانګړو ځواکونو راتګ او دلته د شپنیو او خپلسریو عملیات د پیل په اړه لولئ. که څه هم په افغانستان کې د ناټو ځواکونو جنګي ماموریت رسما پای ته رسېدلی؛ خو له تېرو څو میاشتو راهیسې یو ځل بیا د ناټو ځواکونو له خوا د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د داعش ډلې پر ضد د مبارزې په پلمه عملیات کېږي او خلک بندیانېږي او وژل کېږي. د راپورونو له مخې، یو شمېر تازه‌دمه برېتانوي ځانګړي ځواکونه هم په پوځي عملیاتو کې د ګډون په موخه افغانستان ته راغلي، چې تر اوسه په دې اړه افغان حکومت هم څه غبرګون نه دی ښودلی.

د دې اوونۍ په تحلیل کې، په همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# د کډوالۍ بحران او په نړۍ کې د افغان کډوالو وضعیت



د اروپايي اتحاديې د يوې څېړنې له مخې د ۲۰۱۵ کال په جولای مياشت کې، د اروپا پولو ته تقريباً ۱۰۷۵۰۰ کډوال ورسېدل.[1] دا لومړی ځل دی، چې اروپا ته په يوه مياشت کې دومره شمېر کډوال په غيرقانوني ډول ننه کېږي. د څېړنې له مخې، افغانان د دغو ناقانونه کډوالو درېيم لوی اکثريت جوړوي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۱۵ کال د انساني قاچاق راپور،[2] د دغو کډوالو وضعيت "ډېر بد" ښودلی او په دې تړاو افغانستان په يوه داسې حوزه کې بولي، چې حکومت يې د انساني قاچاقبرو پرخلاف د اړتيا وړ هلې ځلې نه کوي.

په ټوليز ډول په نړۍ کې د کډوالۍ لړۍ توده شوې او ډېری کډوال له آسيا، منځنۍ ختيځ او افريقا څخه د اروپا پر لور روان دي. دا چې د نړېوالې کډوالۍ تر شا کوم مهم لاملونه دي او په نړۍ کې د افغانستان د کډوالو وضعيت څه دی؟ دلته يې څېړو.

---

[1] See online:
http://www.aljazeera.com/news/2015/08/record-influx-migrants-europe-mediterranean-eu-150819022218296.html

[2] see online:
http://www.state.gov/documents/organization/245365.pdf

## اروپا ته د مهاجرتونو عوامل

د عربي پسرلي له ناکامېدو سره د اروپا پر لور د کډوالۍ لړۍ له بېلابېلو لارو توده شوه، چې پکې د مدیترانې ختیزې، لوېدیزې او منځنۍ لارې او د بالقان لارې شاملې دي. د دغې زیاتېدونکې کډوالۍ عوامل په دوه ډوله دي: د فشار (Push) او جلب (Pull) عوامل.

د فشار عوامل هغه دي، چې د یوې سیمې وګړي اړباسي، ترڅو خپله خاوره د بل ځای لپاره پرېږدي؛ لکه کورنۍ جګړې، دیکتاتور حکومتونه، سیاسي مخالفتونه، له بشري حقونو خلاف ورزي، بېلابېلې ناروغۍ او داسې نور.

په بل اړخ کې د جلب عوامل بیا اقتصادي، امنیتي، سیاسي او نور کېدای شي؛ خو دا چې له تېرو څو کلونو راهیسې اروپا ته د منځني ختیځ، افریقا، او آسیایي هېوادونو مهاجرین روان دي، لاملونه يې په لاندې ډول دي:

- **د سوريې کورنۍ جګړه:** د سوریې کورنۍ جګړه چې له ۲۰۱۱ کال راهیسې پیل شوې، په ۲۰۱۴ کال کې يې سوریه د نړۍ تر ټولو زیات کډوال شوی ملت کړ.[3] تراوسه له ۴ ملیونو څخه زیات مهاجرین لري. په ۲۰۱۴ کال کې اروپا ته د اوبو له لارې ٦٦٦٩٨ کسان ولاړل. همدا راز د ۲۰۱۵ کال له لومړۍ میاشتې څخه تر شپږمې میاشتې پورې اروپا ته په غیر قانوني توګه په تلونکو کډوالو کې تر ټولو زیاته برخه سوري وګړو جوړوله.
- **د عراق کورنۍ جګړه او داعش ډله:** له عراق څخه د امریکایانو له وتلو وروسته کورنۍ جګړه توده شوه، چې لاهم روانه ده او له همدې کبله یو شمېر خلک اروپا ته د مهاجرت په موخه روان شول. وروسته چې کله په عراق کې "اسلامي دولت" ډلې سر راپورته کړ، نو له دغه هېواده یو زیات شمېر ایزیدیان هم د اروپا پر لور وخوځېدل. که څه هم په دې اړه لا کره ارقام نشته چې د "اسلامي دولت" ډلې له واک ته رسېدو وروسته اروپا ته څومره ایزیدان تللي؛ خو ترکیې د ۲۰۱۴ کال په سپتمبر کې د ایزیدانو پرمخ د ترکیې پولې پرانیستې او اوس هلته تقریباً تر ۳۰ زرو پورې ایزیدیان استوګن دي چې نبایي یو شمېر به يې د ترکیې له قاچاقي لارو څخه اروپا ته هم تللي وي.

[3] see online: http://1tvnews.af/en/news/afghanistan/17186-syrians-replace-afghans-as-largest-refugee-population

- **افغانستان:** په افغانستان کې ناامنۍ او بې‌کاري عمده لاملونه دي چې افغانان اړباسي، ترڅو اروپا ته مهاجرت وکړي (د افغانستان قضیه لاندې په مفصله توګه څېړل شوې ده)
- **د افریقایي هېوادونو بېلابېل عوامل:** تېر کال له افریقا څخه اروپا ته ۱۷۰۰۰۰ تنه ولاړل او د ۲۰۱۵ کال له پیل څخه تر اپریل میاشت پورې تقریباً ۲۱ زره افریقایان اروپا ته ورسیدل؛ خو په دغه بهیر کې د مدیترانې په سمندرګي کې له ۹۰۰ څخه زیات وژل شوي هم دي. د افریقایي هېوادونو غربت، مستبد حکومتونه او کورنۍ جګړې هغه عوامل دي، چې افریقایان مهاجرت ته اړباسي.[4]

## د اروپا د مهاجرتونو بحران

اروپا ته د مهاجرتونو روانه لړۍ اوس په یوه بحران بدله شوې ده. دا چې په اروپا کې د مهاجرتونو دغه لړۍ څرنګه په بحران بدله شوه، لاندې لاملونه لري:

**لومړی:** په اروپایي هېوادونو کې د موجودو مهاجرینو او ځایي خلکو ترمنځ نښتې وشوې او د مهاجرینو پر ضد تحریکونه رامنځته شول. د بېلګې په ډول پکې د انګلېستان قومي ګوند، د فرانسې قومي فرنټ، د سویډن ډیموکرات، د جرمني پېګېدا او نور ګوندونه شامل دي.

**دویم:** له عربي پسرلي وروسته، په منځني ختیځ کې د کورنۍ جګړې پیل، په یو شمېر افریقایي هېوادونو کې دېکتاتور حکومتونه، مرضونه، او اقتصادي ستونزې او همدا راز په افغانستان کې د ناامنیو له کبله د ډېرو نړېوالو کډوالو مخه د اروپا پر لور شوه او ورځ تر بلې د دغو عواملو له زیاتېدو سره اروپا ته د کډوالو شمېر هم لوړېږي. یوازې د ۲۰۱۵ کال په جولای میاشت کې اروپا ته له یو لکو څخه زیات کډوال ولاړل او اټکل کېږي، چې یوازې جرمني ته په روان کال کې اته لکه کډوال ورشي.[5]

**دریېم:** د مدیترانې په سمندرګي کې د کډوالو کښتۍ ډوبې شوې، چې له کبله یې یوازې په ۲۰۱۴ کال کې ۳۰۷۲ کسان ووژل شول.[6] د ټیلیګراف ورځپاڼې د څېړنې له مخې په روان کال کې دغه شمېره له ۲۰۰۰ څخه

---

[4] see online:
http://www.bbc.com/news/world-europe-24583286

[5] see online:
http://www.bbc.com/pashto/world/2015/08/150818_gn_germany_to_expect_750000_refugees_in_2015_report

[6] see online:
http://www.unhcr.org/print/552e603f9.html

اوښتې ده. تېره اوونۍ هم په دغه سمندرګي کې یوه کښتۍ ډوبه شوه او ۴۹ تنه پکې ووژل شول. دغه حالت هم د مهاجرتونو دا لړۍ په یوه بحران بدله کړې ده.[7]

**څلورم:** ډېرى هېوادونو د مهاجرينو پرضد سختې تګلارې جوړې کړې او تر ډېره بريده غير قانوني مهاجرين نه مني. د بيلګې په ډول هنګري د مهاجرينو د مخنيوي په تړاو له صربستان سره په خپلې سرحدي پولې يو اغزن سيم لګولی دی. د دې ترڅنګ په اروپا کې روان اقتصادي بحران هم په دې کې خپل رول لوبولی دی.

## له افغانستانه د کډوالۍ لاملونه

که د تېرو دوو کلونو ارقام وګورو نو روښانه به شي، چې له افغانستانه ډېرى هېوادوال اروپا ته په غير قانوني توګه تللي دي. که څه هم دا ډېره ستونزمنه ده چې معلومه کړای شي، چې هر کال له هېواده څومره افغانان د اروپا په لور روانيږي؛ خو بيا هم په دې اړه ځينو اداروسروې ګانې کړې او د يوې سروې له مخې په ۲۰۱۳ کال کې تقريباً ۲٦۲۱۵ تنو په اروپا کې د پناه غوښتنې وړانديزونه کړي وو. دغه شمېره بيا په ۲۰۱۴ کال کې ۴۱۳۷۰ ته ورسېده او په روان کال کې هم، چې کډوالۍ ته اړ ايستونکي عوامل زيات شوي، ورځ تر بلې له هېواده د تلونکو کسانو شمېر زياتېږي.[8]

دا چې له تېرو څو کلونو او په تېره بيا يوه کال راهيسې افغانان د هر بل وخت په پرتله له هېواده د وتلو ډېره هڅه کوي، لاندې عمده عوامل لري:

1. **ناامنۍ او جګړې:** که تېرو پنځلسو کلونو ته ځير شو، نو جګړه هر کال تودېږي؛ خو په وروستي کال کې دغې جګړې ډېر زور اخيستی دی. څو مياشتې وړاندې د امنيتي ترون له لاسليکولو وروسته د هېواد په پلازمينه کې د چاودنو توده لړۍ پيل شوه او بيا اوس د ملا محمد عمر د مړينې له اعلان وروسته. همدا راز د ملي وحدت حکومت د جوړېدو له مهاله جګړه له جنوبي ولايتونو څخه شمالي ولايتونو ته وغځېدله او ترڅنګ يې د داعش ډلې مرموز ظهور دغه حالت لا پېچلی کړ. د يوناما د يوې سروې له مخې د ۲۰۱۵

---
[7] see online: http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/europe/italy/11782584/More-than-2000-migrant-deaths-in-Mediterranean-in-2015-says-monitoring-group.html

[8] see online: http://ec.europa.eu/eurostat/statistics-explained/index.php/File:Countries_of_origin_of_(non-EU)_asylum_seekers_in_the_EU-28_Member_States,_2013_and_2014_YB15_III.png

کال له پیل څخه د کال تر نیمايي پورې تقریباً ۵۰۰۰ ملکي کسان په مختلفو چاودنو او جګړو کې وژل شوي دي.[9] همدا لامل دی، چې له شمال څخه تر جنوب او له ختیځ څخه تر لوېدېځه د ناامنۍ او جګړو له کبله، بلکې په دغو جګړو کې په تېره بیا د ملکي کسانو د وژل کېدو له کبله، ډېری کسان کډوالۍ ته اړ کېږي.

2. **بې‌کاري:** په هېواد کې پراخه بې‌کاري هغه بل اساسي اړ ایستونکی عامل دی، چې هېوادوال کډوالۍ ته اړ باسي. په ملیونونو ځوانان، چې اوس ورته په هېواد کې د کار زمینه برابره نه ده، د خپلو اقتصادي ستونزو د رفع کولو په موخه، اروپا ته تګ غوره بولي.

3. **په ځینو اروپايي هېوادونو کې د قبلېدو آسانه شرایط:** له یوې مخې په هېواد کې بې‌کاري، زیاتېدونکې ناامنۍ او جګړې، غربت او له بلې خوا په ځینو اروپايي هېوادونو کې په اسانه توګه د قبلېدو شرایط هغه عوامل دي، چې زموږ خلک اروپا ته د تللو لپاره هڅوي. په دې تړاو مو چې له تېرو لسو ورځو راهیسې له چا سره هم مرکې شوې دي، ډېری یې د جرمني، ایټالیې او سویډن نومونه ښیي او همدلته د تللو لپاره لارې چارې لټوي.

4. **اقتصادي عوامل:** افغانستان چې یو غریب هېواد دی او ډېری وګړي یې د غربت له کرښې ټیټ ژوند تېروي، ځوانان یې د خپلو اقتصادي ستونزو د هوارې په موخه د نړۍ پرمختللو او صنعتي هېوادونو ته مخه کوي.

## د افغان کډوالو وضعیت

په ټوله کې افغان کډوال په دریو برخو وېشلی شو: ایران مېشتي افغان کډوال، پاکستان مېشتې افغان کډوال او دریم هم په اروپا کې استوګن یا تلونکي افغان کډوال.

دا چې په نړۍ کې د افغان کډوالو وضعیت څه ډول دی، په دې اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې د انساني قاچاق په تړاو یو راپور خپور کړ، چې په عمومي توګه یې پکې د کډوالو وضعیت څېړلی و. د افغانستان په اړه پکې لیکي: افغانستان د نارینه، مېرمنو او ماشومانو د مزدورۍ او جنسي قاچاق منبع او ترانزیټ دی. د افغانانو د انساني قاچاق ډېری برخه ماشومان جوړوي، چې دوی بیا د خښتو او

---

[9] see online:
http://www.rt.com/news/311650-afghanistan-death-toll-2015/

قالینو په فابریکو کې کار کوی، سوالګرۍ ته اړ کېږي، د مخدره توکو قاچاق او په جنسي کاروبار کې ترې کار اخیستل کېږي.[10]

**ایران:** په ایران کې د افغان کډوالو وضعیت ښه نه دی. هلته یې یو شمېر په زندانونو کې بند او ځینې نور یې بیا اعدامېږي. د دې ترڅنګ په نړېوالو او داخلي منابعو کې ډېر داسې خبرونه هم خپاره شوي، چې ایران د پیسو په بدل کې افغان کډوال د سوریې جګړې ته استوي. له همدې کبله ده، چې د ۲۰۱۵ کال له پیل څخه د جون تر ۳۰مې پورې تقریباً ۱۳۷۸۰۳ تنه ناراجستر افغانان د اسلام قلعې او میلاک له لارې افغانستان ته راغلي.[11] که څه هم تېره اونۍ ایراني چارواکو ومنله، چې له ایرانه به قانوني او غیر قانوني افغان کډوال یوازې په داوطلبانه ډول افغانستان ته ستنول کېږي.

**پاکستان:** هغه مهال چې د پاکستان په پېښور کې پر یوه پوځي مکتب برید وشو او له کبله یې د تروریزم او افغان کډوالو په اړه تګلارې سختې شوې؛ نو له پاکستانه د افغان کډوالو بېرته راتګ پیل شو. د کډوالۍ نړیوالې ادارې د ارقامو له مخې د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ څخه د جون تر ۳۰مه پورې تقریباً ۹۱۴۵۸ کسان افغانستان ته د تورخم او سپین بولدک له لارې راستانه شوي دي. دغه کسان په پاکستان کې ناراجستره کډوال وو. دغه ارقام د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۴۱۸ "سلنه" لوړوالی ښیي.[12]

که څه هم پاکستان اسلام آباد ته د افغانستان د کډوالو چارو د وزیر د سفر پرمهال ژمنه کړې وه، چې ډېر ژر به د ناراجستره کډوالو راجسترول هم پیل شي؛ خو تر اوسه دغه پروسه لا نه ده پیل شوې او وروستیو سیاسي بدلونونو ته په کتلو سره شاید دغه پروسه ژر پیل نه شي.

راجستر شوي کډوال هم افغانستان ته راستنېږي خو دوی بیا په پاکستان کې د ۲۰۱۵ کال تر پایه د اوسیدو جوګه دي. البته له ۲۰۱۵ کال وروسته دوی هم له یوه تور سرنوشت سره مخ دي، یا به د دوی د کاردونو موده وغځول شي، یا به د تېر په شان بې سرنوشته پرېښودل شي او یا به اړ ایستل شي، چې خپل هېواد ته وګرځي.

[10] see online:
http://www.state.gov/documents/organization/243558.pdf
[11] see online:
http://afghanistan.iom.int/sites/default/files/Reports/undocumented_afghan_returns_from_iran_and_pakistan_jan-jun_2015.pdf
[12] see online:
http://afghanistan.iom.int/sites/default/files/Reports/undocumented_afghan_returns_from_iran_and_pakistan_jan-jun_2015.pdf

**نوره نړۍ:** په ډېرې توګه اروپا ته تلونکي افغان کډوال له خطرناکو لارو څخه اروپا ته ځي او ځینې مهال په دې تړاو ډېرې یا د پولیسو له خوا پر سرحدونو کې وژل کېږي او یا یې کښتۍ په اوبو کې ډوبېږي. که چېرې بیا هم دوی په دې وتوانیږي چې اروپا ته ورسیږي، نو بیا هلته هم تر ډېره بریده بې‌سرنوشته او په ځنګلونو کې استوګن پاتې کېږي.

# ناتو باز می‌گردد!



به تاریخ 30 سپتمبر سال 2014 میلادی، قراردادی میان پیمان ناتو و حکومت افغانستان به امضا رسید. این قرارداد را از جانب افغانستان محمد حنیف اتمر مشاور امنیت ملی و از جانب پیمان ناتو، نمایندۀ ارشد ملکی ناتو در افغانستان، به امضا رسانیدند.

مانند امضای قرارداد امنیتی با امریکا، این قرارداد نیز مورد بررسی همه جانبه قرار نگرفت و نکات مبهم و چند پهلو در آن که می‌توان از هر کدام آن تعبیرها و برداشت‌های متفاوت داشت، زیر سوال نرفت. برای فریب اذهان عامه، مانند هر قرارداد دیگری فقط به نکاتی در این قرارداد تمرکز صورت گرفت که ظاهرا به نفع افغانستان بود از جمله "تعهد نیرومند" برای یک افغانستان امن، دیموکراتیک و دارای حاکمیت.

در مقدمۀ این قرارداد آمده است که «با تاکید بر درک مشترک طرفین از تهدید تروریزم علیه جامعۀ جهانی و تعهد مشترک شان برای اتخاذ اقدامات موثر به منظور مبارزه علیه این تهدید و حصول اطمینان از اینکه افغانستان بار دیگر به پناهگاه امن تروریستان مبدل نشود؛

با این درک که ماموریت آیساف در افغانستان تا پایان سال 2014 میلادی (زمستان سال 1393) به اتمام می‌رسد؛ با تاکید مجدد بر تعهدات ناتو و اعضای دیگر جامعۀ جهانی مبنی بر حمایت از افغانستان و توافق طرفین در نشست

ناتو در لیسبون مبنی بر تجدید و تحکیم مشارکت پایدار و نیرومند به منظور همکاری‌های گذشتۀ امنیتی و تداوم آن در آینده؛..»[۱۳]

و در پایان این مقدمه آمده است: «با تائید مجدد بر این توافق که در نهایت ناتو باید رهبری ماموریت غیر محاربوی، آموزش، مشوره‌دهی و کمک را که پس از سال 2014 آغاز می‌گردد، به عهده داشته باشد...»

## ماموریت غیر محاربوی

مقامات ناتو همیشه روی این نکته تاکید داشتند که ماموریت این سازمان پس از سال 2014 در افغانستان، ماموریت "غیرمحاربوی" خواهد بود. اما دو فقره از مادۀ دوم قرارداد که فعالیت‌های این سازمان را تعریف می‌نماید دارای ابهام است و می‌توان از آن برداشت نموده که ماموریت ناتو فقط منحصر به فعالیت‌های غیر محاربوی نیست بلکه در صورت توافق، این نیروها می‌توانند ماموریت محاربوی نیز داشته باشند:

1- «طرفین با آرزوی مشترک شان اذعان می‌دارند که مشارکت میان آن‌ها طوری توسعه یابد که با اکمال همکاری‌های گذشته و تحکیم همکاری‌های جاری امنیتی شان ادامه پیدا کند. طرفین بر اهمیت تداوم فعالیت‌های ناتو برای حمایت از امنیت در افغانستان توافق می‌کنند.

2- طبق توافق طرفین، حضور ناتو پس از سال 2014 در افغانستان شامل ماموریت غیر محاربوی متمرکز بر آموزش، مشورت‌دهی و کمک بوده و همچنان به منظور سایر فعالیت‌های تحت رهبری ناتو که روی آن توافق مشترک صورت می‌گیرد، میباشد...»[۱۴]

بی بی سی در 27 اکتوبر 2014 خبر داد که آخرین سرباز جنگی انگلیسی ولایت هلمند را ترک کردند و جنگ برای نیروهای انگلیسی در افغانستان به پایان رسید.

[13] See online:
http://mfa.gov.af/Content/files/NATO-SOFA-TEXT%20DARI.pdf

[14] ماخذ قبلی

## بازگشت انگلیس‌ها به هلمند

طبق این قرارداد نیروهای پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) ظاهرا جنگ در افغانستان را به پایان رسانیدند و باید به کشورهای شان باز می‌گشتند اما چنین نشد؛ نیروهای ویژۀ امریکایی همچنان به فعالیت‌های نظامی شان در روستاهای افغانستان ادامه دادند و در این اواخر نیروهای انگلیسی هم بار دیگر با آن‌ها یکجا شدند.

به گزارش روزنامۀ انگلیسی «میرور» تعدادی از نیروهای ویژۀ انگلیسی به افغانستان بازگشته اند تا نیروهای امریکایی را در مبارزه با گروه داعش همکاری نمایند. در مورد تعداد دقیق این نیروها چیزی گفته نشده؛ اما طالبان در اعلامیه‌ی که به مناسبت نود و ششمین سالروز استرداد استقلال کشور از انگلیس به نشر سپرده، گفته اند که «در این اواخر بیش از دو هزار سرباز تازه‌نفس بریتانیایی به افغانستان آمده‌اند.»[۱۵]

در گزارش روزنامۀ میرور از قول مقامات بلند رتبه در وزارت دفاع انگلستان آمده است که نیروهای ویژۀ اردوی این کشور، طراحی و رهبری عملیات‌های ضد تروریستی در افغانستان را به دوش دارد. یک مقام نظامی بلند رتبۀ انگلیسی به این روزنامه گفته است که نیروهای ویژۀ اردوی بریتانیا در طول شش ماه گذشته مشغول آموزش کماندوهای افغان بودند، اما به مرور زمان مجبور شدند نقش آموزشی خود را به شرکت در ماموریت‌های جنگی، بازرسی خانه‌ها و بازداشت مظنونین همکاری با طالبان، تغییر دهند.

## ظهور گروه داعش در افغانستان

زمانیکه نیروهای ناتو اعلام داشتند که ماموریت جنگی خود را به ماموریت آموزشی برای نیروهای افغان تغییر می‌دهند، مقامات امریکایی اعلام داشتند که بعد از این تاریخ طالبان را به عنوان دشمن نمی‌شناسند و جنگ نیروهای افغان با طالبان، به خود این نیروها مربوط است. کار ناتو فقط آموزش و مشورت‌دهی خواهد بود.

از حدود یکسال بدین‌سو حرکت‌های مشکوکی در شرق افغانستان بنام گروه داعش صورت می‌گرفت و مقامات افغان نیز برای این گروه جدید تبلیغات کردند. اکنون برخی تحلیلگران به این نظر اند که ظهور این گروه بهانه‌ای برای بازگشت نیروهای خارجی به افغانستان و ادامۀ فعالیت‌های نظامی آنان بوده است. نیروهای امریکایی و انگلیسی در جاهایی که سال گذشته بنام سرکوب طالبان به خانه‌های مردم هجوم می‌بردند و مردم را به ظن طالب بودن دستگیر می‌کردند و می‌کشتند، اکنون همان کارها را در همان جاها بنام مبارزه با داعش انجام می‌دهند، با این تفاوت که حکومت جدید افغانستان بر این اقدامات شان اعتراضی نمی‌کند.

[15] See online:
http://alemara1.org/?p=24581

## تجارت مواد مخدر

شماری از تحلیلگران در مورد انگیزۀ بازگشت انگلیس‌ها به هلمند نظریاتی را ارائه داده‌اند؛ از جمله اینکه بازگشت آن‌ها به هلمند را، با مواد مخدر ربط داده‌اند.

گوردون داف Gordon Duff پروهشگر ارشد ویترانس تودی Veterans Today در یک تحلیل خویش مدعی شده که هدف امریکا از حضور در افغانستان، تجارت هروئین است. وی در مصاحبه با "پرس تی وی" گفته است که دلیل اینکه امریکا به افغانستان آمده و می‌خواهد در این کشور بماند، تجارت ملیاردها دالری هروئین در این کشور است و هروئین همیشه بخشی از تجارت افغانستان را تشکیل داده است.

او می‌افزاید: «زمانیکه امریکا در سال 2001 قدم به افغانستان نهاد، تولید انواع مواد مخدر در این کشور تقریبا از بین رفته بود، اما امروز افغانستان 98 درصد از هروئین جهان را تولید می‌کند. اراضی زیر کشت تریاک که از آن هروئین بدست می‌آید 209 هزار هکتار زمین قابل کشت در افغانستان را شامل می‌شود که افغانستان را بزرگترین تولید کنندۀ تریاک در جهان ساخته است.»[۱۶]

ابی مارتین Abby Martin در جنوری 2014 در مدیا روتس Media Roots در مقاله‌ای تحت عنوان How Opium is Keeping US in Afghanistan "تریاک چگونه امریکا را در افغانستان نگهداشت" نوشت: «جنگ‌ها همیشه به خاطر کنترول منابع صورت می‌گیرد.»[۱۷]

وی با استناد به یک گزارش از گلوبل ریسرچ می‌نویسد که بعد از تهاجم امریکا به افغانستان در اکتوبر 2001، بازار تریاک رونق یافت و قیمت یک کیلو تریاک در آغاز سال 2002 نسبت به سال 2000 ده برابر افزایش یافت. نویسنده رشد همه سالۀ تولید تریاک در افغانستان را نشان از اهمیت این ماده برای سازمان "سیا" می‌داند و با استناد به گذشتۀ این سازمان در کار قاچاق مواد مخدر از جنوب شرق آسیا به غرب در دهۀ 50 قرن گذشته و نیز تمویل نیروهای ضد کمونیست در نیکاراگوا از پول به دست آمده از تجارت مواد مخدر که به ماجرای "ایران کنترا" شهرت دارد اشاره نموده و می‌گوید که در افغانستان نیز "سیا" به همین کار مشغول است.

---

[16] see online:
http://www.presstv.com/detail/2013/12/06/338440/us-aims-to-stay-in-afghanistan-for-heroin/

[17] see online:
http://mediaroots.org/opium-what-afghanistan-is-really-about/#

هرچند تحلیلگران با استناد به اینکه نیروهای انگلیسی بعد از بازگشت مجدد به افغانستان، به ولسوالی سنگین ولایت هلمند بازگشته اند، جایی که به صورت عنعنوی بازار اول تریاک در افغانستان است؛ اما نمی‌توان این تحلیل را دلیل بازگشت نیروهای انگلیسی به افغانستان دانست چون نظامیان انگلیسی در سیزده سال گذشته برعلاوۀ جنگ با مخالفین مسلح، مسؤولیت مبارزه با مواد مخدر را نیز به عهده داشتند، با وجود آنکه در مبارزه با مواد مخدر موفق نبودند.

## عوامل و پیامدها

بازگشت نیروهای تازه‌نفس انگلیسی به افغانستان، تلاشی برای گسترش دوبارۀ حضور نظامی آنان در افغانستان، به بهانه‌های گونه‌گون از جمله مبارزه با گروه داعش، است. این در حالی است که در سیزده سال گذشته این نیروها نتوانستند فعالیت‌های مخالفین دولت را در مناطقی که تحت ماموریت این نیروها بود، کنترول نماید.

ناتو این بار نیروی کمتری در افغانستان خواهد داشت و فعالیت‌های جنگی را بیشتر طیارات بی‌سرنشین انجام خواهند داد، اما حضور مجدد نیروهای ویژۀ امریکایی و انگلیسی در افغانستان و انجام عملیات شبانه بر خانه‌های افغان‌ها و حملات بی‌هدف بر مناطق مسکونی، می‌تواند یک بار دیگر روی افکار عمومی افغان‌ها تأثیر بگذارد.

به همین دلیل انتظار مردم از حکومت افغانستان این است که حضور تازۀ این نیروها را به گونه‌ای کنترول نماید که آن‌ها خارج از توافقات، عملیاتی را انجام ندهند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com